

# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خوندي ساتنه

کلنی راپور ۲۰۱۷


د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوی

د بشري حقونولپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر



فبروري ۲۰۱۸

کابل افغانستان


AFGHANISTAN
ADMINISTRATIVE DIVISIONS
Afghanistan
UZBEKISTAN
TAJIKISTAN
CHINA
TURKMENISTAN
IRAN
PAKISTAN
INDIA
Jammu and Kashmir
BADAKHSHAN
Faiz-Abad
TAKHAR
Taluqan
KUNDUZ
Kunduz
JAWZJAN
Shiberghan
BALKH
Mazar-e-Sharif
Aybak
SAMANGAN
Pul-e-Khumri
BAGHLAN
Saripul
SARI PUL
Maimana
FARYAB
Qala-i-Naw
BADGHIS
Herat
HERAT
Cheghcharan
GHOR
BAMYAN
Bamyan
Bazarak
PANJSHER
NURISTAN
Poruns
Chaharikar
Mahmudi Raqi
KUNAR
Asadabad
PARWAN
KAPISA
LAGHMAN
Kabul
KABUL
Mehtarlam
WARDAK
Maydan Shahr
Jalalabad
Pul-e-Alam
NANGARHAR
LOGAR
Gardez
Nili
DAYKUNDI
Ghazni
PAKTYA
KHOST
Khost (Matun)
GHAZNI
Sharan
URUZGAN
Tirin Kot
FARAH
Farah
ZABUL
Qalat
PAKTIKA
Lashkar Gah
Kandahar
HILMAND
KANDAHAR
Zaranj
NIMROZ
0 50 100 200 300 Kilometers
DISCLAIMER
The boundaries and names shown and the designations used on this map do not imply official endorsement or acceptance by the United Nations.
Dotted line represents apporximately the line of Control in Jammu and Kashmir agreed upon by India and Pakistan. The final status of Jammu and Kashmir has not yet been agreed upon by the parties.
Geographic Coordinates: WGS84
Production Date: February 2017
Capital
Provincial Center
Main Road
International Boundary
Jammu and Kashmir
Regional Boundary
Provincial Boundary
River
GIS UNAMA
UNAMA

د دې راپور سربېره د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه ټول راپورونو کې چې دلته یې حواله ورکړل شوې د یوناما په ویب پاڼه په لاندې ادرس د لاس رسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

په لومړي مخ تصوير: © عمرسبحاني / رويترز

د اګست په ۲۵ نېټه د کابل په ښار کې قلعه نجاران سیمه کې د اهل تشیع په امام زمان جومات د ډله ییز برید یو تن قرباني د جومات د باندې راوړل کیږي. یو بریدګر د جمعې د لمانځه په مهال جومات کې ځانمرګی واسکټ وچاوه ، چې ورپسې څلور نور بریدګرو لمونځ کونکي په ټوپک او ګرینیډ په نښه کړل ، ۳۵ ملکي خلک یې ووژل او ۶۵ نور یې ټپیان کړل. داعش/ د شام او عراق اسلامي دولت- د خراسان ولایت د برید مسؤلیت ادعا وکړه.

**" په راپور کې ټکان ورکونکي شمېرې د جګړې د اغیز کره معلومات وړاندې کوي،" د افغانستان د پاره د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړي استازي تډا میچي یما موټو وویل،" شمېرې یواځې د بشري زیان او کړاونو هغه دردونکی انځور وړاندې کولای نشي، کوم چې عام خلکو او په ځانګړي ډول ښځو او ماشومانو ته اوښتی."**

تډا میچي یما موټو ، د افغانستان د پاره د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړي استازی ، کابل ، فبروری ۲۰۱۸

**" ملکي افغانان چې ورځنی ژوند ته ځي – په بس کې سفر کوي، په جوماتونو کې عبادت کوي، د هغې ودانۍ له څنګ تیرېږي چې په نښه شوې، وژل کیږي. د افغانستان خلک هر کال له بل کال وروسته په نا امنۍ او ډار کې ژوند کوي، خو هغه څوک چې د خلکو د ژوند اخلي او ژوند یې ویجاړوي د مجازاتو معافیت مومي . داسې بریدونه د بشردوستانه قانون له مخې منع دي او کیدای شي په زیاتو پېښو کې جنګي جرایم وشمیرل شي. د دې مرتکبین دې حتما مشخص شي او عدلي تعقیب شي. "**

زید رعد الحسین ، د ملګرو ملتونو د بشري بشري حقونو عالي کمیشنر ، جنیوا ، فبروري ۲۰۱۸

## صلاحیت /واک

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند د ۲۰۱۷ کال دغه راپور ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی دی ، چې د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د هغه صلاحیت او واک له مخې چمتو شوی دی ، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د ۲۳۴۴ (۲۰۱۷) پریکړه لیک پر بنسټ یوناما ته ورکړل شوی تر څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د خوندیتوب د باوري کېدو په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د احکامو ، چې د افغانستان په اساسي قانون او نړیوالو تړونونو کې ، چې افغانستان یې غړیتوب لري تسجیل شوي دي ، په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې چې د ښځو له خوا د هغوی له ټولو حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري.

۲۳۴۴ (۲۰۱۷) شمیره پریکړه لیک چې په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړي توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپور ورکونې ته اهمیت ورکوي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او ناپیلې ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ؛ په وسله والو جګړو کې د زیانمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ ؛ او د داسې نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري حقونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون او د افغانستان د اساسي قانون او نورو قوانینو سره سمون ولري او په جګړه کې د ټولو ښکیلو غاړو له لوري رعایت شي.

دا راپور د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ دفتر د تخنیکي معلوماتو څخه برخمن شوی دی.

# میتودولوژي

یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلې په سیمه کې څېړي ، له مختلفو سرچینو سره په پراخه کچه سلا مشورې کوي او بېلابېل معلومات راغونډوي چې د اعتبار او ریښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پېښې په څېړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي چې تر شوني بریده له مختلفو سرچینو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنترول کړي ، لکه د عیني شاهدانو ، قربانیانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو وګړو ، د نظامي کارکوونکو (د افغان حکومت او نړیوالو نظامي ځواکونو ، د دولت وسله واله مخالفینو په ګډون) ، د کلي / ولسوالۍ او ولایت ځایي چارواکو ، مذهبی او د ټولني د مشرانو او نورو برخه والو څرګندونې.

یوناما ټول معلومات د پېښو له سیمې څخه د مستقیمو لیدنو ، د پېښو له ځای څخه د لاسته راغلو موادو ، شواهدو او مدارکو د فزیکي ازمویني ، د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه د لیدنو ، د تصویرونو او ویډیوګانو ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصؤنیت د څانګې او نورو ادارو راپورونه ، د دوهم لاس سرچینو او د هغو معلوماتونو له لارې راغونډوي چې د نا حکومتي سازمانونو او دریېمګړو سرچینو له خوا ترلاسه شوي وي.

د ملکي تلفاتو د هرې ځانګړې پېښې د کره کولو لپاره یوناما لږ تر لږه درېو مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني ، شاهدان ، طبی پرسونل ، ځایي چارواکي ، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید ، قومي مشر او یا نوري سرچېنې. تر هغه ځایه چې ممکن وي معلومات د قربانیانو یا د پېښو د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پېښي د ځای پر پلټونو ولاړ وي. دغه ډول څېړنې تل ممکنې نه وي ځکه د پېښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاسرسی محدود وي. په داسي وختونو کې یوناما په یو لړ تخنیکونو باندي اتکا کوي چې د امکان تر بریده د پراخو معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي او د اعتبار او باور له مخې یې کره کړي.

کله چې د ملکي تلفاتو پېښې مستندي کیږي ، یوناما هڅه کوي د جندر په لحاظ د بېلابېلو سرچینو سره او همدارنګه د نژادي لیږکیو ، قومي او مذهبي ډلو او په ټولنه کې له منزوي شویو ډلو سره مشورې کوي. په دي ډول یوناما د زیانمنیدونکو سرچینو د ساتنې لپاره هڅې کوي چې کیداي شي د معلوماتو د برابرولو له امله له غبرګونونو سره مخامخ شي او له دوی سره په خوندي ځایونو کې ګوري او له ښځو سره د مروجو ټولنیزو نورمونو سره سم مرکې کوي او په هغو ځایونو کې څېړني نه کوي چیري چې ښایي دغه سرچینې د ګواښ سره مخامخ شي. دغه راز یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د څارنې ، مستندکولو او مدافعه کولو تمایلاتو څخه په فعاله ډول ملاتړ کوي چې په پورتنیو یادو شویو ډلو باندي اغیزه کوي.

کله چې یوناما د یوې پېښې په اړه د معلوماتو له کره والي څخه ډاډمنه نه وي ، دغه ډول پېښې نه تاییدوي. ناتایید شوي پېښې په دې راپور کې نه دي ځاي شوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي مخکي له هغه چې نتیجي ته ورسیږي څو اوونۍ وخت ونیسي. دا په دې معنا ده چې د ملکي تلفاتو په اړه ارقام چې له یوې پېښې څخه مستند شوي وي ښایي چې بیا نوي شي ځکه چې تازه معلومات رارسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وي او تر څو چې معتبر او قناعت بخښونکي شواهد لاسته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري تر هغو نه کیږي ، څو پوري چې د قناعت وړ شواهد لاس ته راشي ، له پایلو پرته قضیه ترل کیږي او په احصایوي راپور کې د هغي خبر نه شاملیږي.

په ټولو مواردو کې د بشرپالنې نړیوال قانون د تطبیق وړ ټول نورمونه یوناما ته لارښودنه کوي. په ځینو پیښو کې د ځینو قربانیانو ملکي موقف نه شي کیداي چې په قطعي ډول سره په ګوته شي یا د هغه په اړه اختلاف موجود وي. یوناما ملکي کسان هغه اشخاص ګڼي چې د وسله والو ځواکونو او یا د کومې منظمې وسله والې ډلې غړیتوب ونلري. یوناما ملکی تلفات په هغه وخت کې نه مستند کوي چیري چې ملکي شخص د مړینې یا ژوبلې په وخت کې په مستقیم ډول په وسله واله نښتو کې برخه اخیستي وي ، او نه د هغو کسانو مړیني او ژوبلې مستندي کوي چې له بریدونو څخه خوندي وي خو د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندي ملکي کسان نه دي لکه د وسله والو ځواکونو طبي او مذهبي پرسونل [1]. یوناما د جګړې د عمر نارینه کسان ملکیان یا جنګیالي نه تصور کوي ، بلکه دغه ډول قضاوت

[1]. د زیاتو مالوماتو لپاره د حقوقي چوکاټ څېرکي وګورئ

په حادثه پوري د ټرلو موجودو حقایقو پر بنسټ کیږي او مستندوي. چیرې چې پوره مالومات نه وي ، دغه ډول تلفات په احصائیه/راپور کې نه ځایوي.

په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د خپل راپور او ارزونې څخه د ملاتړ په موخه ، یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایی ډیتابیس جوړ کړ. ډیتابیس داسې طرح شوی ، چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه ټولونه او د مالوماتو تحلیل اسانه کوي ، چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، وسلې او نورو کټګوریو په لحاظ د مالوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

څرنګه چې په جګړه کې ډیرې غاړې ښکیلې وي ، نو یوناما هر ډول هڅه کوي چې د امکان تر حده پوري په دقیق ډول په ملکي مرګ ژوبله کې مسؤل لوری په کره او مشخصه توګه په ګوته کړي. خو دا مساله په عملیاتي چاپیریال کې د ځینو اړوندو محدودیتونو لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او په ډیرو پیښو کې د لومړنیو سرچینو پاتې راتلل چې د ګڼ شمېر نظامي فعالینو یا دولت ضد عناصرو ( یاغیانو) په منځ کې توپیر وکړي یا داسې حالات چېرې چې هیڅ لوری د یوې پیښې مسؤلیت نه مني له امله تل شونې نه ده.

یوناما د ملکي تلفاتو د هر هغه پیښې لپاره دولت پلوه ځواکونه یا دولت ضد عناصر په ګډه مسؤل ګڼي او یا هغه پیښې چې "مرتکب شخص یې معلوم نه وي"لکه داسې پېښې چې له جګړو څخه د پاتې شونو توکو چاودنې چې په قاطع ډول  یوه لورې ته هم نه شي منسوبیدلای او یا کیدای شي له پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي وي.

د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد وسله والو ډلو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال چې کله ملکی مرګ ژوبله یوه لوري ته هم منسوب کېدای نه شي ، نو یوناما داسې پیښه په یوه جلا کټګورۍ کې چې دواړو غاړو ته منسوبیږي ، اچوي.

یوناما ادعاء نه کوي چې په دغه راپور کې احصایې بشپړې دي او مني چې په عملیاتي چاپیریال کې د محدودیت په پام کې نیولو سره کیداي شي د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور یې نه وي ورکړی.

## لنډیز

*"زما مور ، وریره او زه د جومات په دویم منزل کې وو او جانمازونه مو ایله خپاره کړي وو چې همدا مهال مو د ډزو غږونه واوریدل او هر کس د عمومي دروازو په لور په منډو شو. دوي د لاندې منزل د زینو څخه په موږ ډزې پیل کړې چې خلکو بیرته د لمانځه خونې ته ورمنډه کړل او همدغه مهال زما خوارکۍ مور په مرمۍ ولګېده او پر ځمکه ولوېده —زما وریره هم ولګېده او پر ځمکه پریوته. زما ښیی لاس ځنګل ته نږدې ټپي شو چې زه هم راولوېدم او زما ډیره وینه ضایع شوه. زموږ د مرستې لپاره هیڅوک رانغلل چې یوه لویه چاودنه وشوه چې زه په ډېرو زیاتو ماتو شویو شیشو په مخ او سینه باندې ټپي شوم. کله چې زه په هوښ شوم نو ومې لېدل چې مور مې هلته پرته ده — هغې نه تنفس او نه یې کوم حرکت کولو او چې چاپیره مې وکتل زما وریره هم هلته پرته وه ، .هغه په هوښ کې وه خو شاید هغه په شاک کې وه او د ویرې له امله چوپ وه. کله چې په روغتون کې وو نو د مور په اړه به مې پوښتنه کوله خو زموږ مشر ورور راته وویل چې هغه په بل روغتون کې ده. کله چې د روغتون څخه خارج شو او کورته راورسیدم نو ورور مې راته وویل چې زموږ مور همغه ورځ مسجد کې ووژل شوه.*[۲]"

-- د اګست په ۲۵ نېټه د کابل په ښار کې د اهل تشیع په جومات باندې ډله ییز برید چې په نتیجه کې ۳۵ ملکي کسان ووژل شول او ۶۵ نور ټپیان شول. داعش / د عراق او سوریه اسلامی دولت — د خراسان ولایت د برید پړه په غاړه واخسته.

ملکي وګړي د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې له وسله واله جګړې څخه په دوامدار ډول اغیزمن شوي دي. د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه تر ۳۱ دسمبر پورې ، یوناما ۱۰۴۵۳ ملکي تلفات ( ۳۴۳۸ مړینې او ۷۰۱۵ ټپیان)[۳] ثبت کړي ، چې په ټولیز ډول دا د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۹ سلنه کمښت ښیي او ۲۰۱۲ راوروسته لومړنی کال دی چې په ملکي تلفاتو کې کمښت ثبت شوی دی. د ۲۰۱۶ کال په پرتله د ملکي وګړو په مړینه کې دوه سلنه کمښت راغلی او د ملکي وګړو په ژوبله کې ۱۱ سلنه کمښت راغلی ، په ټولیز ډول د ملکي وګړو په دوام داره ډول لوړ شمیر تلفات د روان جنګ له امله ځاني تلفات په ګوته کوي.[٤] د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۷ کال د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې په افغانستان کې وسله والې جګړې د ۲۸۲۹۱ ملکي وګړو ژوند اخستی او ۵۲۳۶۶ نور یې ټپیان کړي.

[۲] له قرباني سره د یوناما د دفتر مرکه ، کابل ښار ، د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر ۷ نېټه.

[۳] په ۲۰۱۷ کال کې یوناما په وسله واله جګړه پورې تړلې ملکیانو ته د زیان ۴۳۱۰ پیښې ثبت کړې ، چې ۳۸۳۵ پیښو کې ملکي وګړو ته مرګ او ژوبله اوښتې او ۴۷۵ پیښې دي چې په هغه کې اختطاف ، تهدید او ډارونه شامل ده چې په دغه پیښو کې ملکیانو ته هغه زیان ندی رسیدلی چې دوي دې طبي درملنې ته اړتیا ولري.

[٤] د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ څخه تر ۳۱ دسمبر پورې ، یوناما ۱۱۴۳۴ ملکي تلفات ( ۳۵۱۰ مړینې او ۷۹۲۴ ټپیان) ثبت کړي دي

د ۲۰۱۷ کال پر مهال د ملکي وګړو په تلفاتو کې د کمښت لوي لامل د ۲۰۱۶ کال په پرتله د ځمکنۍ نښتو په وخت ملکي وګړو ته کم تلفات اوښتل دي ، خو په ټولیز ډول د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو د ټولو ډولونو د تاکتیک[۵] له امله بیا ملکي تلفات لوړ شوي ـ چې زیاتره یې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې د ملکي وګړو په تلفاتو کې ډیر والی راغلی.[٦] د اسې بریدونه په ټول هیواد




کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۲ سلنه تشکیلوي ،[۷] چې له دې جملې ۱۶ سلنه تلفات یې د روان کال پر مهال د داسې بریدونو له امله کابل کې رامنځ ته شوي. د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله ملکي تلفات د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۱۷ سلنه زیات شوي — د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله په افغانستان کې له ۲۰۰۹ کال راپدیخوا چې د هغه راهیسې د ملکي تلفاتو په منظم ډول ثبتول پیل شوي ، د یوه کال په موده کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله تر ټولو لوړ شمیر ملکي تلفات ثبت شوي دي.

د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو او د دې پرته نور ځای په ځای شوو چاودیدونکو توکو کارول په ۲۰۱۷ کال کې تر ټولو زیات د ملکي وګړو د تلفاتو لامل ګرځیدلي ـ په ځانګړي ډول د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو د بې توپیره او غیر قانوني استعمال د بېلګې په ډول په ملکي میشتو سیمو کې د ځانمرګو بمونو او د فشاري ماینونو کارول دي. د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو ټولو ډولو یو ځای تاکتیک ۴۱۵۱ ملکي تلفات ( ۱۲۲۹ مړیني او ۲۹۲۲ ټپیان ) اړولي ،[۸] چې په ۲۰۱۷ کال کې د ټولو تلفاتو ۴۰ سلنه تشکیلوي.[۹] د دغو وسیلو له امله را منځ ته شوي ډیری ملکي تلفات د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په زمینه کې رامنځ ته شوي او په تعقیب یې د فشاري ماینونو د چاودنې له امله رامنځ ته شوي. د ډیرې اندیښنې وړ ده ، چې یوناما په هغو ځانمرګو بریدونو کې ډېروالی ثبت کړی چې تر شا یې فرقه ییزه انګیزه وه ، او دا د ۲۰۱۶ کال راهیسې په ډېرېدو دي ، او همدارنګه د کابل ښار په مرکز کې د مۍ پر ۳۱ په لوي موټر کې د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو ځانمرګی برید یوازېنی تر ټولو زیات مرګونی برید و.[۱۰]

---

[۵] د چاودیدونکو توکو ټول انواع یو ځای تاکتیک د توکمو یا ماشو هغه ټول ډولونو ته وویل کیږي چې په په دې کې د فشار سره چاودیدونکي توکي ، ځانمرګي ، د ریموټ یا مخابرې په واسطه د لېرې ځای چاودیدونکي توکي ، مقناطیسي ځاي په ځای شوي چاودیدونکي توکي شامل دي. د یوځای شوي چاودیدونکو توکو له امله په تلفاتو کې هغه شمیرې ندي شامل شوي کوم کې چې ملکي خلک په قصدي ډول په نښه شوي او هغه د هدفي وژنو د تاکتیک لاندې شمیرل شوي" په دې اړه د زیات معلومات لپاره ۷ او ۱۳۷ فوټ نوټ وګورئ.
[٦] د یوناما د تعریف په اساس ډله ییز برید په لاندې عناصرو مشتمل وي: دوه یا له دوه څخه زیات بریدګر ، دوه یا له دوه څخه زیات ډول وسلې ، او یو له وسلو څخه د ځانمرګي ځای په ځای شوی چاودیدونکي توکي وي ـ د بېلګې په ډول ځان پورې تړلې چاودیدونکي توکي یا موټر کې ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي.
[۷] په ۲۰۱۷ کال کې ځانمرګو او ډله ییز بریدونه د ۲۲۹۵ ملکي تلفاتو ( ۶۰۵ مړیني او ۱۶۹۰ ټپیان ) لامل شوي
په دې شمیرو کې د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د ټولو ډولونو د تاکتیک په پایله کې د ملکي وګړو تلفات شامل دی ، په اثتثنا د هدفمند وژلو تلفات چې د په هغه ځای ځای په ځای شوی چاودیدونکي توکي کارول شوی وي ( دغه بیا د هدفي وژنو په ډله کې شمیرل کیږي ) . په دې اړه ۴ او ۱۳۷ فوټ نوټ وګورئ. [۸]
د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۶ کلونو په منځ کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په اړه د یوناما په شپږ میاشتني او کلني راپور کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په نتیجه کې اوښتي تلفات د غیر ځانمرګو وسیلو د تلفاتو جدا ثبت کړي ، د بېلګې په ډول هغه چې د فشاري چاودیدونکو توکو ، مقناطیسي یا ریموټ کنترول چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي. دې ته په پام سره چې په ځانمرګي او ډله ییز بریدونو کې چاودیدونکو توکو تاکتیک شامل دی (( فوټ نوټ وګورئ) او د دې پېښنو ځانګړتیاوې یا خواص سره ورته دي ، چې د جوړښت له پلوه په همدې اساس بې توپیره دی چې بم ورکې ځای په ځای کیږي ، چې اغیز په بشپړ ډول په کنترول کې نه وي او د ملکي وګړو د میشت په سیمو کې منفجر کیږي — یوناما دا ټول یوځای په دې راپور کې شمیرلې دي. خو ځینې وخت د ډله ییز برید په نتیجه کې ملکي وګړي د ډزو یا نورو وسلو له امله تلفات اوړي ، د ډله ییز بریدونو له امله چې زیاتره تلفات ملکي وګړو ته اوښتي او یوناما ۲۰۱۷ کال پر مهال ثبت کړي ، هغه د ځان مرګي ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي. [۹]
[۱۰] د دې برید د تفصیلاتو لپاره د یوناما د ۲۰۱۷ کال شپږ میاشتنی راپور وګورئ




د ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو د ټولو ډولونو یو ځای تاکتیکونو وروسته ، ځمکنۍ نښتې په ۲۰۱۷ کې د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل دي. په ۲۰۱۶ کال کې د ځمکنۍ نښتو په نتیجه کې د بې ساري ملکي تلفاتو په تعقیب ، یوناما د دولت ضد عناصرو او دولت پلوو ځواکونو تر منځ د ځمکنیو نښتو له امله په ۲۰۱۷ کال کې ۱۹ سلنه کمښت ثبت کړی ، چې ۳۴۸۴ ملکي تلفات ( ۸۲۳ مړیني او ۲۶۶۱ټپیان ) دي. د ځمکنیو نښتو په پایله کې په ملکي تلفاتو کې د کمښت لامل دا و چې د دواړو لورو دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو له خوا د غیر مستقیمو وسلو - په ځانګړې ډول د هاوانونو - د کارولو له امله د ملکي تلفاتو مرګ او ژوبله راکمه شوې.[11]

یوناما د عبادت ځایونو ، مذهبي مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بریدونو کې حیرانکې ډیروالی مستند کړی ، چې د ۲۰۱۷ کال په مهال یې په ۳۸ بریدونو کې ۴۹۹ ملکي تلفات ( ۲۰۲ مړیني او ۲۹۷ ټپیان ) ثبت کړي. دا د ۲۰۱۶ په پرتله درې چنده ډیروالی په ګوته کوي چې مړیني شمیر دوه ځله زیات شوی او په ټولیز ډول ټول تلفات یې ۳۰ سلنه زیات شوي. د یوناما ماموریت د فرقه ییز انګیزه لرونکي بریدونو کې په ځرګند ډول ډیر والي په اړه ډیره اندیښمنه ده ، د ۲۰۱۶ کال راهیسې دا بریدونه مخ په زیاتیدو دي چې په دې بریدونو کې د شیعه مسلمانانو اجتماع ګانې په نښه شوې ، چې د داعش / شام او عراق اسلامي دولت — د خراسان ولایت له خوا ترسره شوي. یوناما د ۲۰۱۷ کال د نومبر په میاشت په دې اړه ځانګړې راپور خپور کړه چې د دې تمایل په اړه په وضاحت سره موندنې رانغاړي.

یوناما د افغان امنیتي ځواکونو[12] له خوا د ملکي وګړو د خوندي ساتنې په موخه په ۲۰۱۷ کال کې د پام وړ اقدامات ستاینه او هر کلی کوي ، په ځانګړي ډول د ځمکنیو نښتو او په دې پورې د تړلو عملیاتو پر مهال. په دې کې د ملکي وګړو د تلفاتو د کمښت او مخنیوي

[11] په ۲۰۱۷ کال کې یوناما د هوان ، راکټ او ګرنیډونو له امله د ځمکنۍ نښتو پر مهال د دولت پلوه ځواکونو له خوا ۸۴۹ ملکی تلفات ( ۲۰۰ مړیني او ۶۴۹ ټپیان ) ثبت کړي. دا د ۲۰۱۶ په نسبت ۴۱ سلنه ډیر والی ښیي چې هغه وخت یوناما ۱۴۴۹ ملکي تلفات ( ۳۷۹ مړینې او ۱۰۷۰ ټپیان ) مستند کړي وو. دولت ضد عناصرو په ۲۰۱۷ کال کې د همدغه تاکتیک په نتیجه ۵۹۷ ملکي تلفات ( ۱۱۲ مړینې او ۴۸۵ ټپیان ) ثبت کړي چې دا شمیر په ۲۰۱۶ کال کې ۸۸۴ ملکي تلفات ( ۱۷۰ مړینې او او ۷۱۴ ټپیان ) وو چې ۳۲ سلنه کمښت ښیي.

[12] ټول افغان ملي امنیتي او دفاعي ځواکونه رانغاړي: دا یو چترې اصطلاح ده چې په دې کې افغان ملي سرحدي پولیس ، افغان سیمه ییز پولیس ، ملي اردو ، افغان هوایی ځواک ، د عامه نظم پولیس ، ملي پولیس ، ځانګړي افغان ځواکونه او د ملي امنیت ریاست شامل دي.

د ملي پالیسي تصویب ، د امنیتي ځواکونو لپاره اړونده روزنه ، د جګړې په ډګر کې د عملي اقداماتو سربیره د ملکي سیمو څخه د نظامي مراکزو انتقال او په ملکي سیمو کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د هاوانونو او نورو غیر مستقیمو وسلو په کارونه باندې د زیاتو محدودیتونو وضع کول شامل دي.

اضافي عوامل چې د ملکي تلفاتو د کمښت لامل شوي ، هغه د ملکي وګړو روانه بې ځایه کېدنه ده (په تېره بیا په هغو سیمو کې چې په نسبي ډول د جګړې نه بدلېدونکي لومړۍ کرښې پاتې شوي) ، د ۲۰۱۶ کال په پرتله ، د دولت ضد عناصرو له خوا په ولایتي مرکزونو د سترو بریدونو نه شتون او د ولسوالیو په مرکزونو په بریدونو کې نسبي کمښت ، د ځمکنیو نښتو په تاکتیکونو کې اړوند بدلونونه ، په ځانګړي ډول تر ټولو زیاتو ځپل شویو ملکي میشتو سیمو کې ، او چېرې چې شونی وي ، د دواړو لورو له خوا ملکي وګړو ته د راتلونکو عملیاتو په اړه خبرداری رانغاړي. د ملکي تلفاتو په شمیر کې د کمښت سربیره د ملکي وګړو د خوندي ساتنې لپاره باید نور ډېر څه تر سره شي ، ځمکنیو جګړو د افغانانو په ژوند باندې ناوړه اغیز کړی ، له کورنیو څخه یې د هغوی مینډې ، پلرونه او بچیان اخستي دي او په ۲۰۱۷ کال کې نږدې یو میلیون ملکي خلک بې ځایه شوي.[۱۳] جګړې کورونه او معیشت ویجاړ کړی ، روغتیایی او ښوونیزو خدمتونو ته لاسرسی یې محدود کړی. یوناما د ځمکنیو نښتو پر مهال په دوامدار ډول د وسلو لکه د هاوان ، راکټ او لاسي بمونه د کارولو او د ناچاودو پاتې شونو له امله ملکي تلفاتو ترمنځ ټینګه اړیکه موندلې چې د دې زیاتره تلفات بیا ماشومان دي.

په ۲۰۱۷ کال کې ښځو ته اوښتي تلفات د ۲۰۱۶ کال سره د مقایسې وړ دي: په ټولیز ډول په ملکي تلفاتو کې د کمښت برعکس ، د ښځو تلفات څه کم یوه سلنه زیات شوي خو د ښځو په مړینه کې پنځه سلنه ډېروالی راغلی. ځمکنۍ نښتې د ښځو د تلفاتو مخکښ لامل دي ، که څه هم یوناما د ځمکنیو نښتو له امله د ښځو په تلفاتو کې ۱۱ سلنه کمښت ثبتوي. له دې وروسته ځانمرګي او ډله ییز بریدونه مخکښ لاملونه دي چې په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله د ښځو تلفات دوه چنده زیات شوي.

په ۲۰۱۷ کال کې د ملکي تلفاتو له ټولیز کمښت سره سره ، د ماشومانو تلفات د ۲۰۱۶ پرتله ۱۰ سلنه کم شوي دي.[۱۴] یوناما د ماشومانو ۳۱۷۹ تلفات ( ۸۶۱ مړینې او ۲۳۱ ټپیان) ثبت کړي چې ډېری یې د ځمکنیو نښتو له امله را منځ ته شوي. ګڼ شمېر ماشومان د جګړې نه پاتې شوې چاودیدونکو توکو او ځای په ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله زیات زیانمن شوی دي. یوناما د ځمکنیو نښتو او د جګړې نه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو تلفاتو کې کمښت او د هوایی بریدونو په پایله کې زیاتوالی ثبت کړی ، چې دا د ټول دې ډول پېښو د تمایلاتو سره په سمون کې دي. په ټولیز ډول د ټولو تمایلاتو بر عکس بیا هم ماشومان د فشاري ماینونو له امله زیات زیانمن شوي ، چې دا په دې ټینګار دی چې د قرباني سره د تماس له امله فعالیدونکې وسیلې په بې توپیره ډول زیات زیان سره مخ کوي.

په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه په ۲۲ ولایتونو کې ملکي تلفات راکم شوي دی. په پاتې ۱۲ ولایتونو کې په ملکي میشتو سیمو کې د دولت ضد عناصرو له خوا زیاتېدونکي ځانمرګي او د ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو بریدونه د ملکي تلفاتو د ډېرېدو عمده لاملونه دي ، که څه هم یو څه د ځمکنی نښتو له امله هم زیات شوي.[۱۵] یوناما په دوامدار ډول په کابل ولایت کې په لوړه کچه ملکي تلفات ثبت کړي ، چې ډېری یې په کابل ښار کې د بې توپیره بریدونو له امله رامنځ ته شوي. له ۱۸۳۱ ملکي تلفاتو (۴۷۹ مړینې او ۱۳۵۲ ټپیان ) چې په کابل کې ثبت شوي ، ۸۸ سلنه تلفات یې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو چې په کابل کې ترسره کړي ، رامنځ ته شوي.[۱۶] تر کابل وروسته بیا زیات تلفات د هلمند ، ننګرهار ، کندهار ، فاریاب ، اروزګان ، هرات ، پکتیا ، کندز او لغمان په ولایتونو کې ثبت شوي دی.[۱۷]

---

[۱۳] د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې څخه تر ۳۱ دسمبر پورې ۴۴۵۳۳۵ خلک په افغانستان کې د جګړې له امله د خپلو کورونو تښتیدلي

[۱۴] په ۲۰۱۶ کال کې یوناما د ماشومانو ۱۴۳۴تلفات ( ۳۲۵ مړینې او ۱۱۰۹ ټپیان) ثبت کړي.

[۱۵] یوناما په فراه ، فاریاب ، هرات ، هلمند ، کابل ، خوست ، لغمان ، ننګرهار ، نورستان ، پکتیا ، سرپل ، او زابل ولایتونو کې د ملکي تلفاتو کې زیاتوالی مستند کړی. ځانمرګي اوډله ییز بریدونه او نورې هغه پېښې چې ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي په کې شامل دی په کابل ، پکتیا ، ، هرات ، هلمند ، خوست ، ننګرهار کې د ملکي تلفاتو کې د عمده زیاتوالی لامل شوی خو بل لور ته فراه ، فاریا ب ، لغمان ، نورستان او زابل ولایتونو کې د ځمکنۍ نښتو له امله په کم اندازه ملکي تلفاتو کې لوړ والی ثبت کړی. خوست ، پکتیا او سرپل کې هدفمند قتلونه په سر کې راځي

[۱۶] په ۲۰۱۷ کال کې په کابل کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې ۱۶۱۲ ملکي تلفات ) ۴۴۰ مړینې او ۱۱۷۲ ټپیان ثبت شوي

[۱۷] د ولایت په کچه د ملکي تلفاتو د شمیر په اړه راپور کې ضمیمه جدول وګورئ.

### د ملکي تلفاتو منسوبول

یوناما په ۲۰۱۷ کې ډیری ملکي تلفات — ۶۵ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، چې ۴۲ سلنه يې طالبانو ته منسوب شوې ،[۱۸] ۱۰ سلنه يې داعش/ د خراسان ولايت اسلامي دولت ،[۱۹] ۱۳ سلنه نامعلومه او نورو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې.[۲۰] دولت




پلوه ځواکونه په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰ سلنه ملکي تلفاتو لامل شوي دي ( ۱۶ سلنه افغان امنيتي ځواکونو ته ، دوه سلنه يې نړيوال نظامي ځواکونو ته ، دولت پلوه وسله واله ډلو او نا پيژانده دولت پلوه ځواکونو کې هر يو ته په جلا توګه يوه يوه سلنه تلفات منسوب شوي دي. د ځمکنيو نښتو پر مهال د نامنسوبو ډزو په تبادله کې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو نښتې د ۱۱ سلنه تلفاتو لامل شوې ، درې سلنه تلفات د جګړې څخه چاودیدونکو پاتې شونو ته منسوب دي چې کوم ځانګړې لورې ته ندي منسوب شوي او د پاکستان له خوا د افغانستان پر خاوره د مرميو توغول نږدې يو سلنه ملکي تلفات اړولي دي.

[۱۸] طالبان له ځان سره د حقاني شبکه هم شاملوي ، د یوناما د ۲۰۱۶ کال د ملکي وګړو د خوندي ساتنې د کلني راپور په غبرګون کې د طالبانو ځواب وګورئ ( په دغه راپور کې ۶ ضميمه ده ) چې وايي حقاني شبکه جلا ډله نده بلکې د امارت اسلامي غړی دی او د امارت اسلامي او حقاني شبکې ترمنځ هيڅ توپير نشته.

[۱۹] ملکي تلفات چې داعش/ شام او عراق اسلامي دولت — د خراسان ولايت ته منسوب دی هغه تلفات دی چې د هغه ډلو له خوا اوښتي وي چې د هغوي مشرانو په رسمي ډول د وفادارۍ سوګند د هغه ډلو سره کړی وي چې په ښکاره ډول پيژندل شوې وي ، د ISIL-KP سره چې کومې ډلې ټينګې اړيکې لري هغه په ننګرهار او خواو شا سيمو کې د ۲۰۱۵ کال راهيسې فعاليت کوي. یوناما هغه ملکي تلفات چې " چې ځان داعش معرفي کوي/ ISIL-KP جنګيالي" جلا هغه ډلې ته چې ځان داعش معرفي کوي/ ISIL-KP جنګيالي " منسوب کړي ، کوم د دولت ضد عناصر چې ځان داعش معرفي کوي يا يې ادعا کوي چې داعش دی ، ليکن داسې موثق معلومات نه وي چې د دوي رسمي اړيکه د داعش ISIL-KP سره په ننګرهار کې يا په لويه کې د اسلامي دولت د تنظيم سره ونخلوي.

[۲۰] دا ۲۷ ملکي تلفات ( ۲۴ مړينې او درې ټپيان ) شاملوي چې هغه ډلې ته منسوب دي چې ځان معرفي کوي/ ISIL-KP. د دې مخکې پای ليک وګورئ.

## د دولت ضد عناصر

په ۲۰۱۷ کال کې د دولت عناصر د ۶۷۶۸ ملکي تلفاتو ( ۲۳۰۳ مړینې او ۴۴۶۵ ټپیان) لامل شوي ، چې دا د ۲۰۱۶ کال په پرتله درې سلنه کمښت ښيي.[۲۱] دا کمښت په عمده ډول د دولت عناصرو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو ویشتونکو وسلو لکه د هاوانونو ، راکټ او لاسي بمونو له امله په تلفاتو کې لږ کمښت او د هدفي وژنو او د ځان مرګو پرته نور ځای په ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله چې په ځانګړي ډول د ریموټ کنترول بمونو په پایله کې تلفات راکم شوي د توضیح وړ دي. یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا ( په ځانګړي ډول د داعشISIL-KP ) د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی مستند کړی او له دې سره په اتفاقي ډول د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې د ځکمنیو نښتو پر مهال د دولت ضد عناصرو په مرمیو د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې ډېروالی راغلی ، په ځانګړي ډول هغه ځمکني بریدونه چې د پولیسو د پوستو پر وړاندې تر سره کېږي.

په ۲۰۱۷ کال کې د ملکي تلفاتو له جملې څخه چې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځ ته شوي ، یوناما ۴۳۸۵ تلفات ( ۱۵۷۴ مړینې او ۲۸۱۱ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي چې ، د ۲۰۱۶ کال پرتله ۱۲ سلنه کمښت ښيي او په ۲۰۱۷ کال کې د ټولو تلفاتو ۴۲ سلنه تشکیلوي. د دې پېښو څخه دې ډلې د ۱۷۹ بریدونو مسؤلیت په غاړه اخستی چې له امله یې ۱۱۶۶ ملکي تلفات ( ۳۴۵ مړینې او ۸۲۱ ټپیان) اوښتي دي.[۲۲] یوناما ۱۰۰۰ ملکي تلفات (۳۹۹ مړینې او ۶۰۱ ټپیان) ـ د ټولو تلفاتو ۱۰ سلنه داعش/ د شام او عراق اسلامي دولت — خراسان ولایت ته منسوب کړي چې د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۱۱ سلنه ډیر والی ښیي.[۲۳] دې ډلې د ۲۴ بریدونو مسؤلیت ادعا کړې (زیاتره یې ملکیان په نښه کړي) چې د ۸۲۳ ملکي تلفاتو ( ۳۰۰ مړینې او ۵۲۳ ټپیان) لامل شوي. یوناما نور ۱۳۸۹ ملکي تلفات ( ۳۳۰ مړینې او ۱۰۵۹ ټپیان) غیر مشخص لوري او نورو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.[۲۴]

## *دولت پلوه ځواکونه*

یوناما په ۲۰۱۷ کال کې ۲۱۰۸ ملکي تلفات ( ۷۴۵ مړینې او ۱۳۶۳ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي چې د تېر کال په پرتله ۲۳ سلنه پکې کمښت راغلی.[۲۵] دا کمښت په څرګند ډول د غیر مستقیمو ویشتونکو وسلو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو د کمښت سره تړاو لري لکه د ځمکنیو جګړو په وخت د هاوانونو کارول.

د ۲۰۱۶ کال په څېر په ۲۰۱۷ کال کې د نیمایی نه زیات ملکي تلفات چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا را منځ ته شوي په تصادفي ډول د دولت ضد عناصرو سره د ځمکنیو نښتو پر مهال اوښتي. د ځمکنۍ جګړې وروسته هوایی عملیات دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل دي. یوناما ۶۳۱ ملکي تلفات (۲۹۵ مړینې او ۳۳۶ ټپیان) د هوایی عملیاتو په پایله کې مستند کړي چې د ۲۰۱۶ کال په پرتله اوه سلنه زیاتوالی ښیي او د مړینې په کچه کې ۱۸ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.[۲۶] افغان هوایی ځواکونه د ۳۰۹ ملکي تلفاتو ( ۹۹ مړینې او ۲۱۰ټپیان) لامل شوی ، په داسې حال کې چې نړیواله نظامي ځواکونو ۲۳۷ ملکي تلفات ( ۱۵۴ مړینې او ۹۲ ټپیان) اړولي دي. یوناما دغه راز ۷۶ ملکي تلفات (۴۲ مړینې او ۳۴ ټپیان) د هغه هوایی بریدونو په نتیجه کې ثبت کړي چې د غیر مشخصو دولت پلوه ځواکونو له خوا ترسره شوي.[۲۷]

---

[۲۱] په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما ۷۰۰۳ ملکي تلفات ( ۲۱۳۸ مړینې او ۴۸۶۵ ټپیان) د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[۲۲] طالبانو په ۲۰۱۷ کال کې د لاندې پېښو مسؤلیت ادعا کړې ده ، : ۸۸ هدفي وژنې ، ۲۷ ځانمرګي او ډله یز بریدونه ، ۲۲ د ځانمرګو پرته نور ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي ، ۳۱ د ځمکنۍ نښتو پېښې چې ملکي خلکو ته یې تلفات اړولي ، اته د موازي عدالت سزا ورکړې پېښې او درې د اختطاف پېښې.

[۲۳] په دې پېښو کې هغه ملکي تلفات شامل دي چې د هغه پېښو په نتیجه کې رامنځ ته شوي چې داعش ISIL-KP سره متحدینو یې په علني ډول د مسؤلیت ادعا کړې او همدا رنګه هغه تلفات چې د مسؤلیت ادعا یې نده کړې او داعش ته په ننګرهار او کابل کې منسوب شوي دي.

[۲۴] دا ۲۷ ملکي تلفات ( ۲۴ مړینې او درې ټپیان ) له ځان سره شاملوي او د هغه ډلو له خوا چې ځان داعش معرفي کوي د ۴۱ ملکي تلفاتو اختطاف په جوزجان ، سرپل ، او غور ولایتونو کې کوم چې داعش -ISIL-KP کې شامل شوي ندي ، یا ناپیژانده دولت ضد عناصرو شمیرې دي. یوناما مشاهده کړې چې اکثر ممکن نه وي د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله راولاړ شوي تلفات ، پرته له دې چې د مسؤلیت ادعا یې وکړي په د دقیق ډول مشخص دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، ځکه برید کې د فعالینو د پیچلتیا له امله چې په داسې بریدونو کې دخیل وي ـ په شمول د "ترهګرو شبکې" چې په کابل کې موقعیت لري ـ او د استخباراتي معلوماتو ته د لاس رسي په اړه د یوناما محدودیتونه دي. له همدې امله یوناما په ۲۰۱۷ کال کې د طالبانو سره تړلې حقاني شبکې ته نیغ په نیغه د کوم برید ندی منسوب کړی په شمول د هغه بریدونو چې طالبانو ته منسوب شوي. هغه پېښې چې د مسؤلیت ادعا یې نه وي شوي نامعلومه دولت ضد عناصرو ته منسوب کیږي.

[۲۵] د ۲۰۱۶ کال پر مهال یوناما د د ۲۷۳۱ ملکي تلفات ( ۹۰۵ مړینې او ۱۸۲۶ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي وو.

[۲۶] یوناما په ۲۰۱۶ کال کې ۵۹۰ ملکي تلفات ( ۲۵۰ مړینې او ۳۴۰ ټپیان) د هوایی عملیاتو په نتیجه کې مستند کړي

[۲۷] په افغانستان کې هوایی عملیات یواځې دولت پلوه ځواکونو تر سره کړي.

د افغانستان د حکومت او دولت پلوه ځواکونو له خوا په ۲۰۱۷ کال کې د ملکي وګړو د خوندیتوب په هکله هڅې او اقدامات باید حتما وستایل شي. لکه چې د دولت پلوه ځواکونو په اړه په خلورم فصل کې په وضاحت سره وربانديې بحث شوی ، په دې کې د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي ملي پالیسي تصویب — او په رسمي توګه د تصویب د مخه د ملکي تلفاتو په ثبتولو کې پرمختګ ، پلټنې او د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې پیل شامل دي.




## سپارښتنې

یوناما د جګړې ښکېلو خواوو ته راتلونکې سپارښتنې د ملکیانو د ساتنې ، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د بشرپالنې او د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې د خپلو مکلفیتونو د ترسره کولو په برخه کې د هغوی د هڅو د تقویی لپاره وړاندې کوي:

## دولت ضد عناصر

د بشرپالنې د نړیوال قانون د مکلفیتونو سره سم:

- د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو پر مهال ، په بدن پورې د نښلول شوو چاودېدونکو توکو او په موټر کې د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو په کېدون ، د ملکیانو د تګ راتګ په سیمو کې د تولو ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو بې توپیره او غیرمتناسبه کارونه سملاسي ودروي ، او زر تر زره د فشاري بمونو کارونه پای ته ورسوي.
- د هغو دولتي کارمندانو چې ملکي چارې پر مخ وړي ، د بشري حقونو مدافعینو ، قاضیانو او څارنوالو او مرسته رسوونکو په ګډون ، زر تر زره د ملکي اهدافو او ملکي شیانو په نښه کول ودروي.د دیني علماوو ، ملا امامانو ، د عبادت ځایونو او کلتوري ځایونو په وړاندې هدفي بریدونه په تېره بیا چې د داعش/خراسان ولایت له خوا تر سره شوي ، باید زر تر زره پای ته ورسوي.
- پر ملکي میشتو سیمو ، یا له ملکي میشتو سیمو د هاوانونو ، راکټونو او لاس بمونو ګوزارول ودروي.
- د طالبانو د مشرتابه له خوا هغه اعلامیې تطبیق کړئ کومې چې د ملکیانو او پر ملکي میشتو سیمو بریدونه منع کوي ؛ هغه لارښوونې تطبیق کړئ کومې چې طالبانو ته د ملکي تلفاتو د مخنیوي حکم کوي ؛ او د طالبانو د ملکي وګړو د ساتنې پالیسي ګانې عامې کړئ.
- د هغو لارښوونو د تطبیق لپاره اقدامات تر سره کړئ کومې چې د ماشومانو ګمارنه منع کوي او د هغو قوماندانو لپاره د احتساب ډاډ حاصل کړئ څوک چې ماشومان ګماري او کاروي.

- ډاډ حاصل کړئ چې ټولې لارښوونې او احکام د بشرپالنې له نړیوال قانون سره په سمون کې دي ؛ او هغه کسان چې بې توپیره بریدونه تر سره کوي ، یا بل کوم غړی چې ملکي وګړي په نښه کوي ، وژني ، ژوبلوي یا تښتوي ، مسئول وګڼي ؛ ډاډ حاصل کړئ چې ښوونځي ، روغتونونه ، کلینیکونه ، او د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې نور خوندي شوي ځایونه د نظامي اهدافو لپاره نه کارول کېږي ؛ او له بلې هرې داسې کړنې ډډه وکړئ چې د ښوونې او روغتیا لوړو تر لاسه کېدونکو معیارونو ته د افرادو د لاسرسي د حقونو مخه نیسي.

## افغان حکومت

- په ملکي میشتو سیمو کې د هاوانونو ، راکټونو ، لاسي بمونو او نورو وسلو او هوايي بریدونو غیر مستقیمه ( چې هدف په سترګو نه نه لیدل کېږي ) کارونه ودروئ ؛ د چاودېدونکو وسلو او جنګي الوتکو د کارونې په تړاو روښانه تکتیکي لارښوونې ، د ښکیلتیا قواعد او نور طرزالعملونه طرح او تطبیق کړئ.
- د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره ، د مشخصو اهدافو  او د اضافي طرز العملونو په ګډون ، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمونې د ملي پالیسي لپاره چې په دې وروستیو کې تصویب شوې ، د عمل پلانونه نهایي او تطبیق کړئ ؛ او د شخړې په تړاو ملکیانو ته د را منځ ته شوي زیان د ټولو پېښو بشپړه څېړنه یقیني کړئ.
- زر تر زره ټولې ناقانونه وسله والې ډلې او ملیشې منحل او بې وسلې کړئ ، او د دغو ډلو له خوا د بشري حقونو  د را منځ ته شوو سرغړونو لپاره احتساب یقیني کړئ. په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې د هرې وسله والې ډلې د غړو د تنظیم لپاره د حکومت هڅې باید د سوابقو شفافه او قانوني ارزونه او د ګمارنې طرزالعملونه په پام کې ونیسي ، او ګمارل شوی افراد د قانوني سلسله مراتبو ، کنټرول او د احتساب د جوړښتونو تابع وګرځوي ، له داسې میکانیزمونو سره چې د ملکي وګړو ساتنه یقیني کوي.
- د ځینو دودیزو وسلو په اړه د ۱۹۸۰ کنوانسیون تر پنځم پروتوکول لاندې د خپلو مکلفیتونو د ترسره کولو لپاره د عمل پلان تصویب ، او د تطبیق لپاره یې بسیا سرچینې ځانګړې کړئ.
- د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو ضد عملیاتو په موثر ډول تر سره کول ، قومانده او کنټرول او د دغو توکو له منځه وړل او استحصال په برخه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ظرفیت لوړول جاري وساتئ ؛ د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو ضد د ملي ستراتیژۍ بشپړ تطبیق د یقیني کولو لپاره ، ټولې اړینې سرچینې ځانګړې کړئ.
- د بشرپالنې او د بشري حقونو د نړیوالو قوانینو د سرغړونو ټول تورونه وڅېړئ ؛ د افغان او نړیوالو قوانینو سره سم مسئول کسان عدلي تعقیب او مجازات کړئ ، د جنډر او قومیت په شمول پر هر بنسټ له تبعیض پرته په موثر ډول د خسارې د جبران حق یقیني کړي.
- طبي اسانتیاوو ، کارمندانو او طبي ترانسپورت ته د بې طرفه اسانتیاوو او فعالینو په څېر درناوی یقیني کړئ ؛ ښوونیزو اسانتیاوو او کارمندانو ته درناوی وکړئ ؛ او ډاډ حاصل کړي چې ټول افغانان د روغتیا او ښوونې ترلاسه کېدونکو لوړو معیارونو ته لاسرسی لري.

**نړیوال نظامي ځواکونه**

- د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره ، په جګړه کې تر ښکېلتیا مخکې د هدف نیونې پروتوکولونو بیا کتنې ته ادامه ورکړي. تر عملیاتو وروسته بیاکتنو او څېړنو تر سره کولو ته ادامه ورکړي ، او د هوايي عملیاتو او چاپیزو عملیاتو له امله د ملکي تلفاتو د تورونو په تعقیب شفافیت یقیني کړي ، له داسې یوه نظر سره چې عملیاتي کړنې اصلاح او احتساب ته وده ورکړي ، او د قربانیانو او ژوندي پاتې شوو لپاره د خسارې جبران یقینی شي.
- له افغان حکومت سره د ملکي تلفاتو د مخنیوي د ملي پالیسي په تطبیق کې د دوامداره روزنې ، سرچینو ، او افغان ملي امنیتی ځواکونو ته په پالیسي ، عملیاتي او تکتیکي کچو د اړوندې مرستې د دوامدارې برابرونې له لارې خپل ملاتړ جاري وساتي ، په تېره بیا د داسې اقداماتو تر سره کول چې ملکي وګړي د غیر مستقیمو وسلو او جنګي الوتکو د ګوزارونو له زیان څخه ژغوري.
- له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو ضد عملیاتو په موثر ډول تر سره کولو ، قوماندې او کنټرول او د دغو توکو له منځه وړلو او استحصال په برخه کې خپل ملاتړ جاري وساتي.

- د هغو مکلفیتونو سره سم چې دولت د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې چې د ځینو دودیزو وسلو په اړه د ۱۹۸۰ کنوانسیون د پنځم پروتوکول پر اساس منلي ، له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو په نښاني کولو ، پاکولو ، او له منځه وړلو په برخه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو په ظرفیت لوړولو کې خپل ملاتړ جاري وساتي.

**د سیمې په کچه د ملکي وګړو مرګ او ژوبله**

د جنوري - دسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۷




| | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 | 2015 | 2016 | 2017 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جنوب | 2,441 | 2,940 | 2,057 | 2,021 | 2,050 | 2,687 | 2,559 | 2,996 | 2,714 |
| مرکزي سیمه | 942 | 641 | 1,242 | 1,183 | 1,255 | 1,488 | 1,753 | 2,348 | 2,240 |
| ختیځ | 785 | 975 | 1,262 | 1,183 | 1,606 | 1,813 | 1,647 | 1,595 | 1,481 |
| جنوب ختیځ | 959 | 1,387 | 1,775 | 1,442 | 1,624 | 1,677 | 1,470 | 904 | 1,183 |
| لویدیځ | 365 | 351 | 528 | 523 | 810 | 814 | 703 | 839 | 998 |
| شمال | 188 | 381 | 369 | 848 | 667 | 1,060 | 862 | 1,366 | 1,032 |
| شمال ختیځ | 262 | 479 | 606 | 376 | 573 | 929 | 1,982 | 1,271 | 758 |
| مرکزي لوړه سیمه | 27 | 8 | 3 | 14 | 53 | 67 | 58 | 115 | 47 |